# رسنیزه اعلامیه

## د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه او ګډه کمیټه د افغانستان د حکومت او نړیوالی ټولنی څخه غوښتنه کوی ترڅو د د اداری فساد پروړاندی د مؤثرو کړنو لپاره د کمیټی وروستی سپارښتنی پلی کړی.

**کابل، افغانستان: د وری ۴مه ۱۳۹۲ هـ ش**

د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډی کمیټی خپله پنځمه ټولګه سپارښتنی او بنچمارکونه چی ۳۶ سپارښتنی او بنچمارکونه پکی رانغاړی، د اداری فساد پروړاندی د موثرو کړنو لپاره د افغانستان حکومتی ادارو او نړیوالی ټولنی ادارو ته وړاندی کوی.

د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډی کمیټی سپارښتنی او بنچمارکونه ددی لپاره منځته راغلی ترڅو د فساد پروړاندی د افغانستان د حکومت او نړیوالی ټولنی په کړنلارو کی شته تشی ډکی کړی. دغه وروستی ټولګه سپارښتنی او بنچمارکونه د کمیټی د اووم او اتم رسمی سفرونو په ترڅ کی منځته راغلی، چی په ترتیب سره د ۱۳۹۱ کال د لیندی د میاشتی د ۲می څخه تر ۱۶می او د همدغه کال د کب د میاشتی د ۱۴می نیټی څخه تر ۲۸می نیټی پوری سرته رسیدلی. ددغه سفرونو په ترڅ کی د کمیټی غړو د افغانستان د حکومتی ادارو، د نړیوالی ټولنی ادارو، او مدنی ټولنی د استازو سره په پراخه پیمانه سلا مشوری وکړی.

ددغه سپارښتنو موخی د کومکونو د اغیزمنتوب، د بښنی څخه مخنیوی، په ټاکنو کی د درغلیو څخه مخنیوی، په بنسټیزو پروژو کی د فساد څخه مخنیوی او هم د څمکو د غصب پروړاندی د کړنو څخه عبارت دی. ترټولو د ځانګړی اهمیت لرونکی سپارښتنی هغه دی چی غوښتنه کوی ترڅو:

- د بنسټیزو پروژو په انتخاب کی د همغږی ډیروالی او د پروژو د څارنی لپاره د د وړتیا لوړول، چی په کښی د خلکو لخوا د پروژو د کارونو د څارنی دنده هم شامله ده. په نامنه سیمو کی د رایه اچونکو نوم لیکنه
- د فساد پروړاندی د ملګرو ملتونو د کنوانسیون د پلی کیدو په ارزونه کی د مدنی ټولنو او د افغانستان د حکومتی ادارو پراخه برخه اخیستنه، او هم ددغی ارزونی د موندنو شریکول
- د مهاجرینو لپاره د ملګرو ملتونو د عالی کمشنری (UNHCR) او هم د ملکی تخنیکی مرستو په پروګرام (CTAP) کی د فساد د شتون په اړه پلټنه، ترڅو رونوالی ډاډمن کړی

د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی او ګډی کمیټی نوبتی رئیس ډرګوکاس وایی:

> د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه او ګډه کمیټه د ملی او نړیوالو دولتی او غیر دولتی اداراتو سره په پراخه کچه کار کوی ترڅو د فساد پروړاندی شته تشی په ګوته کړی. څمونږ سپارښتنی کړنلارو او پلی کیدونکو سلاګانو ته غبرګون ورکوی، که چیرته په اغیزمنه توګه پلی شی د فساد کچه به راکمه کړی. نوځکه مونږ د افغانستان د حکومت او نړیوالی ټولنی څخه غوښتنه کوو ترڅو د فساد پروړاندی خپلی ژمنی ښکاره کړی او څمونږ سپارښتنی په اغیزمنه توګه پلی کړی.

د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه او ګډه کمیټه به د پلی کونکو ادارو سره خپلو کړنو ته دوام ورکړی ترڅو ډاډ ترلاسه شی چی د کمیټی سپارښتنی په بشپړ ډول پوهول شوی او پلی شی. د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه او ګډه کمیټه په هرو شپږو میاشتو کی د سپارښتنو د پلی کیدو په اړه د پلی کیدونکو ادارو د کړنو څخه د افغانستان ولسمشر، ولسی جرګی، خلکو او نړیوالی ټولنی ته رپوټ ورکوی.

**د لا ډیرو معلوماتو لپاره د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکی او ګډی کمیټی سره په اړیکه کی شی. د اړیکی شمیره ۰۰۹۳۷۹۰۶۶۰۴۳۲ contact@mec.af www.mec.af**